# دصلوة تسبيح فضيلت او دصلوة تسبيح دکولو طريقه :

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ قَالَ لِلْعَبَّاسِ رضي الله عنه : الی اخر الحديث .

مشکوة ج ۱ ص ۱۱۷

دصلوة تسبيح په کولو سره الله جل جلاله اول او اخر زاړه او نوی په خطا او قصدًا کوچني او لوی پټ او ښکاره ګناهونه بخښي نبي عليه الصلوة والسلام وخپل اکاته وفرمايل که دطاقت وي هره ورځ يې کوه کنه په هره جمعه کې يو ارکوه که دي طاقت نه وي په هر کال کې يو وار کوه که دي طاقت نه وي په ټول عمر کې يو وار کوه .

**صلوة تسبيح :** څلور رکعته لمونځ دی په اول رکعت کي تر ثنا ( سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ ) وروسته پنځلس ( ۱۵ ) واره سُبْحَانَ اللّٰهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ اَكْبَرُ ويل کيږي بيا تر اَعُوْذُ بِاللّٰه او بِسْمِ اللّٰه او اَلْحَمْدُ لِلّٰه او سورة وروسته لس (( ۱۰ )) واره ويل کيږي بيا په رکوع کي تر تسبيحاتو وروسته لس ( ۱۰ ) واره ويل کيږي بيا په ولاړه ( قومه ) کي تر ربنا ولک الحمد وروسته لس ( ۱۰ ) واره ويل کيږي بيا په سجده کي تر تسبيحا تو وروسته لس ( ۱۰ ) واره ويل کيږي بيا په ناسته ( جلسه ) کي لس ( ۱۰ ) واره ويل کيږي بيا په دوهمه سجد ه کي تر تسبيحا تو و ر و سته لس ( ۱۰ ) واره ويل کيږي چي جمله تسبيحات په يوه رکعت کښي پنځه اويا ( ۷۵ ) واره کيږي بيا په دوهم رکعت کي تر بِسْمِ اللّٰه او اَلْحَمْدُ لِلّٰه او سورة مخکي پنځلس ( ۱۵ ) واره و يل کيږي پاته نور د اول رکعت په ترتيب سره دي بيا د دريم رکعت ترتيب هم داسي دي بيا دڅلورم رکعت ترتيب هم چي جمله تسبيحات دري سوه ( ۳۰۰ ) واره کيږي. ترمذی ج ۱ ص ۱۰۹

صلوة الحاجة ، يا دحاجت لمونځ او ورسره وروسته دعاء يې :

## دصلوة الحاجة دکولو طريقه :

که يو څوک د الله جل جلاله څخه ديو حاجت غوښتلو اراده ولري او يا يې ديو انسان څخه ولري نو دي ښه مکمل او دس تازه کي او وروسته دي دوه (۲) رکعته لمونځ وکي او د الله جل جلاله ډېره ثناء او لويي دي بيان کي يعني : سُبْحَانَ اللّٰهِ وَبِحَمْدِهٖ عَدَدَ خَلْقِهٖ وَرِضَا نَفْسِهٖ وَزِنَةَ عَرْشِهٖ وَمِدَادَ كَلِمَاتِهٖ دي درې واره وو ايي او پر نبي عليه الصلوة والسلام دي ډېر درود شريف وو ايي او دغه لاندي ليکل سوې دعاء دي په ښه توجه سره وو ايي :

لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ سُبْحَانَ اللّٰهِ رَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْمِ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ أَسْأَلُكَ مُوْجِبَاتِ رَحْمَتِكَ وَعَزَائِمَ مَغْفِرَتِكَ وَالْغَنِيْمَةَ مِنْ كُلِّ بِرٍّ وَالسَّلَامَةَ مِنْ كُلِّ إِثْمٍ لَا تَدَعْ لِيْ ذَنْبًا إِلَّا غَفَرْتَهُ وَلَا هَمًّا إِلَّا فَرَّجْتَهُ وَلَا حَاجَةً هِيَ لَكَ رِضًا إِلَّا قَضَيْتَهَا يَا أَرْحَمَ الرَّاحِمِيْنَ . جامع سنن ترمذی

Ketabton.com

**اودماښام دلمانځه :** وروسته شپږ ر[illegible] (۱۲) [illegible] ري. ترمذی ج ۱ ص ۹۸

**که غواړې :** چي الله جل جلاله در څخه راضي سي او بدن موجوړ سي ، ګناهونه مو وبخښل سي او دګناهو نو څخه وساتل سي او رزق مو زيات او ډېر سي نو د ماخستن دلمانځه څخه وروسته بيا د شپې تر اخرنۍ حصې پوري د تهجد لمونځ کوی. زاد المعاد ، منتخب احاديث

**که غواړې :** چي د نبی صلی الله علیه وسلم دعاء مو په نصيب سي نو د ماز يګر تر لمانځه مخکي څلو ر رکعته زوائد سنت کو ي ، نبی صلی الله علیه وسلم فرمايلي دي رحم دي وکي الله جل جلاله پر هغه کس چي د ماز يګر تر لمانځه مخکي څلو ر رکعته لمونځ کو ي. سنن ابی داؤد حديث نمبر (۱۲۷۳)

**څوک چي دسهار :** دلمانځه وروسته پر هغه ځاي کښېني او د لمر ختو وروسته د اشر اق په وخت کي دوه « ۲ » رکعته لمونځ وکي ديوه پوره حج او عمرې ثواب لري. ترمذي ج ۱ فضل صلوة الضحي

**که غواړې :** چي په ورځ دقيا مت مو د نيکۍ پله زيا ت او ډېر وزن ولري نو دغه کښته ليکل سوی د وې کلمې ډېر ي ډېري وايا ست :

سُبْحَانَ اللّٰهِ وَبِحَمْدِهٖ سُبْحَانَ اللّٰهِ الْعَظِيْمِ ( صحيح بخاري ) او د سُبْحَانَ اللّٰهِ وَبِحَمْدِهٖ په و يلو باندي يو لک او څلير ويشت زره ( ۱۲۴۰۰۰ ) نيکۍ دي حديث نمبر ( ۱۶۹۴ ) الدعاء للطبراني

**يادونه :** خپل وخت د الله جل جلاله په ذکر او عبادت کولو کي تيروی او نورو مسلمانانو ته هم د ديني اعمالو او ديني فضائلو دعوت ورکوی ځکه دقيامت په ورځ بيا د دې عمر پوښتنه در څخه کيږ ي نو بيا به مو ړ او تاسي څه جواب ورکوو .

روژه نيول، لمونځ کول، امر بالمعروف او نهی عن المنکر کول، صدقة ( خيرات ) کول ګناهونه رژوي . صحيح بخاري او سنن ترمذي.

که هرچا ته تاسي ښه او نيکه لار وروښول او هغه عمل په وکي ستاسي د پاره هم دومره زيات ثواب او اجر دی لکه چي دهغه عمل کونکي د پاره وي هغه که سل ( ۱۰۰ ) نفره وي که زر ( ۱۰۰۰ ) نفره وي. مشکوة مع المرقات. خو چي څومره ډېروي ستاسي ګټه او فائده ده نو په تلوار سره ډېر ژر ډېر او زيات خلک و ښو ښو اعمالو او عباداتو ته تيار او اماده کی .

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**